# د فوکلور ټولونې مېتودلوژي

## Methods for data collection of folklore

عبدالاحد منګل *

**Abstract:**

In this paper, first, folklore is being explained by phrase and expression and to discuss what things folklore is being called and what means the expression of folklore in world languages.Meanwhile, after the recognition of folklore, will discuss the significant and importance of folklore like in the long process of human life how folklore has been transferred from one generation to another one and some ancient parts of it has been forgotten or lost and some of it has been over increased. It will also illuminate about folklore, what is the value and benefit to the human in its social life, whenever it is being transferred from one generation to another one and brings change and reform or contradicts by the time passing. Furthermore, in this paper, it would be discussed shortly about collecting folklore and which methodology should be used that is easy and effective.Besides, it would be explained which were the traditional methods of collecting folklore? And currently, which are the modern methods for collecting and maintaining of folklore to benefit. Studying this paper, readers would realize regarding folklore importance and value and also they would know the various methods of its collecting.

**Keywords:** Meanwhile,illuminate, Furthermore, contradicts.

**لنډيز:**

په دې ليکنه او څېړنه کې لومړی فولکلور په لغوي او اصطلاحي لحاظ پېژندل کېږي او په دې بحث کېږي چې څه شی فولکلور بللی شو او د نړۍ په نورو ژبو کې دا اصطلاح په کومه معنا استعمالېږي.

همداشان له هراړخيزې پېژندنې وروسته يې په ارزښت او اهميت خبرې کېږي او د انساني ژوند په اوږده بهير کې څنګه ، له يو نسل څخه بل ته لېږ ديدلی، ځينې لرغونې برخې يې هېرې شوي او ورکې شوي او ځينې پرې ورزياتې شوي، دا هم په ډاګه کېږي، چې انسان ته يې په ټولنيز ژوند کې ارزښت او اهميت په څه کې دی، چې له يو نسل څخه يې بل ته لېږدوي او دوخت په تېرېدو پکې بدلون او سمون راځي او يا د انحراف او زيانمن کيدنې خواته ځي. په دې هم لنډې خبرې کوو چې د راټولونې ميتودولوژي يې کومه، له کومو لارو په اسانه او اغيزناکه را ټولېدی شي، په دې لړکې به داهم تشريح او توضيح شي، چې د دې را ټولونې عنعنوي لارې، دود او طريقه

* Phd.Scholer ,University Of Peshawer,Khyber Pashtoonkhwa

کومه وه او اوس له کومو معاصرو لارو چارو د را ټولېدنې، خوندي کېدنې ګټه اخيستلی شي، او د دې ليکنې په لوستلو به لوستونکي د فولکلور په ارزښت او اهميت پوه شي او هم به يې د را ټولونې بېلابېلې لارې چارې و پېژني.

**د فوکلور لنډه پېژندنه:**

" فولکلور د انګريزي ژبې له دوو توکو څخه جوړه کلمه ده (فولک + لور) ، "فولک" دعوامو او "لور" د پوهنې او زده کړې په معنا ده، په پښتو ژبه کښې يې د دواړو توکو بشپړه معنا ولسي پوهه يا ولسي فرهنګ، دخلکو زده کړې دي. په بېلابېلو ژبو کښې د فرهنګ عامه، خلک پېژندنې، دانش عوام، خلقيات".(۱)

"وايي، د پښتو فولکلوري ادبيات ليکوال يې د لغوي پيژندنې په باب ليکي: فولکلور له دوو کلمو رغيدلی نوم دی ( فولک = Folk) او (لور= Lore) په Folk کښې (ل- L) ګونک دی (فوک) تلفظ کيږي، معنايې(خلک) او دويمه برخه د "لور" يې دزده کړې معنا لري، له دغې ترکيبي نومه دخلکو زده کړې معنا راوځي، دخلکو زده کړې يا ولسي پوهه".(۲)

"د فولکلوري ادبيات، ليکوال بيا لږ ډېر په توپير سره داسې پېژاند او تعريف وړاندې کوي: فوکلور يا فولکلور انګريزي کلمه ده، اصلاً په انګريزي متن کښې د لومړي ځل لپاره ټامس (Thoms) په ۱۸۴۶ م کال داګست مياشت په خپل يو مضمون کښې د (Ambroise Merton) کښې په مستعار نامه استعمال کړه. هلته يې د (فولکلور) اصطلاح وکاروله، يعنې دا چې (ل) په عاريتي ډول دنورو ولسونو او خلکو (خصوصاً افغانانو) له خوا ورسره يو ځای شوی دی، اصل يې (فوکلور .Foklore) دی، څرنګه چې د فولکلور کلمه د لومړي ځل لپاره ديوانګريز (ټامس) له خوا په انګريزي متن کښې استعمال شوې ده، نو له همدې امله فولکلور انګريزي کلمه ګڼل کيږي".(۳)

که مونږ په دقيق ډول پورتنيو نظرياتو ته ځير شو نو ويلی شو، چې پورتني ټول تعريفونه، کليشه يي تعريفونه دي، چې ځينې ځانګړنې يې په لاندې ډول دي او د فولکلور پېژندنې په هره ليکنه کښې ور سره مخ کېږو دلته غواړم د يوې تجزې په صورت کښې داووايم چې:

۱- د پښتو دري(فارسي) او اوردو ژبو په فولکلوري اثارو کښې پورتنی تعريف يا پېژاند د فولکلور د لغوي پېژندنې لپاره يوه متحدالماله کليشه جوړه شوې، په زياتو اثارو او علمي مقالو کښې همدغه تعريف کټ مټ تکرار شوی، خو يوشمېر ليکوالو يې الفاظ سره اړولي را اړولي دي.

۲- هرلیکوال کوښښ کړی، نوی تعریف ورته جوړ او وړاندې کړي، خو داچې تعریف یې د منلو وړ وي، په تکراري ډول د خپل تعریف د وضاحت لپاره د نورو پوهانو د تعریفونو کارول شوي کلیمې او الفاظ د خپل تعریف په تشریح کښې راوړي.

۳- د فولکور د کلمې لومړی کاروونکی (w.j. thoms) یادوي خو زما په اند لومړی تعریف کوونکی یې نه دی معلوم، همدغه لیکوال یې لومړی کاروونکی ځکه نشو ګڼلی، چې کومه لیکنه چې نوموړي کړې ده، هغه زیاته په عمومي کلتور باندې څرخي د ده هغه اوږده تشریحات، چې پوهانو یې نقل قول کړی د فولکلور سره سمون نه لري بلکې کلتوري اړخونه پکښې بیانشوي.

خو بیاهم د ټولو کره کتنو سره .سره اوس د همدغې کلیشې او تعریف پر ایجاد د پېړیو په بهیر کښې د جمهورو څېړونکو له خوا اتفاق شوی، هغه دا چې د فولکلور د لغوي معنا په هکله په زیاتره لیکنو او څیړنو کښې، تر دې مهاله چې زما له نظر تېرې شوي همداشان ورته څرګندونې راغلي دي، چې د ټولو مفهوم هماغه یو دی، لکه، چې وایي:

۱- فولکلورانګریزي کلمه ده، ځکه چې لومړی ځل انګریزي متن کښې استعمال شوې.

۲- د دوو برخو څخه جوړه ده، (فولک) او (لور).

۳- لومړی کاروونکی یې (w.j. thoms) دی.

۴- معنا یې ولسي، پوهه، د خلکو زده کړې، ولسي فرهنګ او نور.

د دې ټولو تشریحاتو، شننو او نظریاتو سره بیا هم ویل کېږي، چې د دې کلمې معادل په پښتو ژبه کښې کومه ځانګړې کلمه نه ده وضعه شوې، چې دیوې علمي فولکلوري اصطلاح په توګه وکارول شي، خو په فارسي او ترکي ژبو کښې یې معادلې کلمې فرهنګ عوام، فرهنګ مردم او خلقیات دي، چې مونږ یې پورته په لغوي تشریح او توضیح کښې یادونه وکړه. خو د همدغو نومونو په څنګ کې (ولسي پوهه) ډېره ښکلې او ټولمعنیزه اصطلاح او نومونه ده، ځکه چې په اصطلاحي لحاظ دغه مرکبه کلمه دیوې ادبي او علمي اصطلاح په توګه نن ورځ اکثره پښتني فوکلور پوهان استعمالوي.

"د فولکلور پیژندنې اثر لیکوال دفولکلور اصطلاحي معنا د څرګندولو په اړه لیکي:

(( دفولکلور په تعریف کښې اساسي مقولې دادي: لرغوني، عوام او عنعنه. د دغو دریو مقولو له ارګانیک ترکیب څخه داسې تعریف لاس ته راځي: فولکلور د عوامو خلکو هغو عنعنو ته ویل کیږي، چې د لرغونو زمانو څخه راپاتې شوي او د اوسني وخت له متداولو پوهنو، عقایدو او چلن بیلګو سره یو څه توپیر لري." (۴)

د پښتو فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود مؤلف د فولکلور د اصطلاحي پیژندنې په باب ځینې توضیحي څرګندونې لري، چې د بېلګې په توګه یې د پرتلیزجاج په موخه نقل کوم: غربي او ځینې نورو پوهانو په وینا په فولکلور کښې رسوم، عقاید، خرافات، رواجونه، ولسي افسانې،

ولسي سندرې، ولسي موسيقي، نڅاوې، متلونه او دعاوې، انسان د ورځنې ژوندانه مشاهدات ټول پکښې مطالعه کيږي، خو په پخواني شوروي اتحاد کښې د فولکلور اصطلاح يوازې د ولسي شفاهي ادب او خلاقيت، ولسي سندرو، ولسي نڅاوو په مفهوم ا ستعمالېږي. په عمومي ډول د دوهمې ډلې په اصطلاح فولکلور لفظي هنر دی.

د فولکلور اصطلاح په غربي پېژندنه کښې د انساني ټولنې ټولې هغه پديدې بيان شوي، چې اوس يې ډېرې برخې د علومو په بېلا بېلو څانګو کښې مطالعه کېږي، لکه طب، زراعت، نجوم، ارواپوهنه او د ښکلو هنرونو څانګه او نور شامل دي، همداډول په دې تعريف کښې ټول هغه نومونه، صفات او اصطلاحات راغلي، چې د فولکلور د لغوي او اصطلاحي پېژندنې پر عمومو ي محور څرخي.

لکه مخکې مو چې وويل د فولکلور لغوي او اصطلاحي پيژندنې په باب نورې ډيرې په زړه پورې څرګندونې هم شته، چې د الفاظو او کلماتو په ادلون بدلون وضعه شوي او وړاندې شوي د هغو ټولو راوړل او ذکر کول د دې ليکنې او څيړنې د چوکاټ له حوصلې نه وتلې خبره ده.

فولکلور يا ولسي پوهه هغه عوامي پوهنه ده، چې د هغې له مخې مونږ کولی شو د تيرو دورونو او نوې دور د ژونداو ژواک دود توپير وکړو، نو که څوک د تيرو زمانو د خلکو ژوند ژواک، کړه وړه، د جنګ او امن په باب نظريات، د دين او مذهب د عقايدو، د مينې او کرکې په باب د هغوی فکر او نظر ځانته معلومول غواړي، نو مجبور او مکلف دي چې د لرغونو او ځنډنو خلکو د ژوند کړه وړه مطالعه کړې چې دا مطاله د دوی په کلتور او فولکلور کښې موندل کېږي، او همداشان که چاته دا په زړه پورې وي، چې په کومه بله ټولنه کښې ژوند وکړي او يا نورو اهداف ولري نو مجبور دی د هغې ټولنې فولکلور مطالعه کړي، دا هر څه د هغو په فولکلور کښې په مطالعه او کتنه حاصلېږي.

**د فولکلور ارزښت او اهميت:**

لکه څنګه چې د هرې معنوي او مادي ښکارندې (پديدې) اهميت اوارزښت په يونه يو ډول د هغې د پايښت او دوام لامل کېږي، کله .کله نوې موضوعات او نورې اړوند پديدې زېږي، ډېر وخت دغه پديدې د انساني ژوند د بقا او ښکلا لپاره را منځ ته کېږي، خو ځينې داسې ښکارندې شته چې د انساني ژوند د هوساينې تر څنګ د بشر د تباهۍ لامل هم کېدای شي، لکه يورانيم چې هم مثبت تمامېږي او هم مضر او تبا کوونکي، نو فولکلور هم د بشري کلتور د يوې مهمې برخې په توګه دواړه (معنوي او مادي) خوا وې لري، چې ترهمدې حکم لاندې راځي، د بشر په ژوندانه کښې له لوړ ارزښت او اهميت نه برخمن توکي ګڼل کېږي. ځکه نو په دې وروستيو دوو پېړيو کښې د هغې راټولونې، څېړنې او سپړنې ته په نړيواله کچه د څېړونکو پام وراوښتی او په دې لړ کښې ترننه ډېرې څېړنې ترسره شوي او کېږي.

"کانديد اکاډمسين محمد صديق روهي د فولکلور د ارزښت او اهميت په باب د خپلو څرګندونو په يوه برخه کښې ليکي: (( که مونږ د فولکلور د منشأ په باره کښې مفصله څېړنه وکړو دا به راته جوته شي چې فولکلور د کار او توليد په پروسه کښې د عملي ژوند له اړتياوو سره په ارتباط کښې منځته راغلی دی او د زيارکښو انسانانو د کولکتيف کار د اسانولو پر طبيعت باندې د بري موندلو، د د ښمنانو د ماتولو او د دوی د نورو اړتياوو او ارمانونو د پوره کولو په لاره کښې يې د مرستندوی په توګه انکشاف کړی دی. په دې اساس فولکلور د زيار ايستونکي انسان د مبارزې ارمانونو، انګيرنو برداشتونو، اجتماعي سيکالوجي او د شعور د سطحې ښکارندوی دی...، د ځينو خرافي اړخونو په نفي کولو سره له فولکلور څخه د تربيتي مقاصدو او ايستيتيکي (ښکلاييزو) غوښتنو د پوره کولو لپاه هم ګټه اخيستل کيدای شي"(۵)

تاريخ د يوې ټولنې پېښې د زمانې په قيد کې بيانوي او همداشان ټولنپوهنه هم د يوې ټولنې اتنيکي او ظاهري جوړښتونو پېژندنه او تشريح کوي، خو د استاد روهي خبره چې فولکلور مونږ د هغو له روح او باطني نړۍ سره آشنا کوي او د خلکو مفکورې ذوقونه، جذبات او ارزوګانې منعکسوي.

د پورتنيو تعريفونو او توضيحاتو څخه دا نتيجه لاس ته راځي چې فولکلور د ژوند د ټولو برخو لپاره خام مواد او تيوري را منځته کړي دي، چې مادي فولکلور ته د خامو موادو او معنوي فولکلور ته د انساني ټولنې او ټولنيز ژوند تيوري نوم ورکولی شو، ځکه چې دفولکلور د ارزښت او اهميت په باره کښې پورتنۍ څرګندونې مونږ ته د فولکلور بنسټيز ارزښت او ټولنيز اهميت د لمر په شان روښانوي، او دې ته مو ځيروي چې د خپلې ټولنې او ټاټوبي دفولکلور راټولول، خوندي کول، سپړل او اکېډيميک څېړل څومره اړين دي.

نوموړې پېژندګلوي موږ ته د فولکلور د ارزښت او اهميت سمت او لوری را ښيي، دا مسلم حقيقت دی، چې د هرې ټولنې هنداره د هغې ټولنې کلتور او په ځانګړې توګه فولکور دی، چې د يوې ټولنې د پېژندنې عمق او تل ته سړی رسوي، په ځانګړې توګه فولکلوري ادبيات، چې د فولکلور ډېره مهمه، لويه او اغيزناکه برخه ده، مطالعه او څېړنه يې له دوو اړخونو څخه د ستر ارزښت او اهميت وړ ګڼل کېږي: لومړي دا چې، په فولکلوري ادبياتو کښې انګېرنې، کړه وړه، له ژوند څخه برداشتونه ارزښتونه، ټولنيزه سايکالوجي او کرکټر څرګنديږي، واقعيتونه پکښې په رښتيني بڼه انګازه کوي د تاريخي انسان برخليک د پيژندلو لپاره د يوې غوره بيلګې په توګه کار ورکوي.

دوهم دا چې: د فولکلوري موضوعاتو، ايماژونو، استعارو، تشبيهاتو، اسطورو او بديعي مختصاتو د هنري نوښتو او تلميحاتو لپاره زياته استفاده کېږي.

د فولکلور یو بل مهم ارزښت او اهمیت دا هم کیدای شي ، چې ډله ییز ځانګړنه لري، د هغه په مرسته د ټولنو د ملي خصلتونو په باره کښې هم جاج اخیستل کیدای شي.
د (پښتو فولکلوري ادبیات) اثر لیکوال د فولکلور یا ولسي ادب ارزښت په دوو اړخونو کښې د مطالعې وړ ګڼي:
۱-هنري ارزښت: په دې برخه کښې ولس دخپل ذوق د خوږوبولو لپاره د خپلو تجربو څرګندونه کوي. توکي یې پښتني دي، ژبه یې کلیواله او پښتني ده، انځورونه او هنري بدیعي ښیګڼې یې د ولس له ذوق سره برابرې دي. د نورو اغیزې پرځان نه مني، ژبه یې هم رڼه او له تکلفه پاکه ده. بدیعي ارزښتونه د ولس له ذهني کچې سره برابر دي، څه چې ویني یا محسوسوي یې، هغه دخپل هنر ګانه ګڼي.
۲-د ژوند د چارو او خبر رسولو په توګه: ... پیښې خوندي کوي، په ټولنه کښې یې یوبل ته رسوي، پر

> "اوسني او راتلونکي وضعیت یې خلک پوهوي، ټولنې ته یو لوری ټاکي، فکر ورکوي، د ټولنې فکري او ذهني پرمختیایي بهیر ته وده ورکوي او هم په ټولنه کښې دیو فکري بدلون لپاره کار کوي". (۶)

سره له دې چې د لیکوال پورتنۍ تجزیه، تحلیل، نظر او څرګندونې په عامه توګه دفولکلور په اړ نه، بلکې دفولکلوري یا ولسي ادب په اړه دي، خو داچې ولسي یا شفاهي ادب دفولکلور ډیره مهمه، ستره او ارزښتناکه برخه ده، نو مونږ یې ارزښت او اهمیت په عام ډول د ټول فولکلور لپاره کارولی شو. چې یادې ځانګړنې مونږ ته دفولکلور ارزښت او اهمیت په ډاګه کوي.

د فولکلور د ارزښت او اهمیت په باب د فولکلور پېژندنې په اړه په ترسره شویو څېړنو او لیکلو آثارو کښې خورې ورې څرګندونې شته، چې ځینې یې په مادي او ځینې په معنوي بعد ډېرې متمرکزې دي، خو په ټوله کښې اکثریت تعریفونه او نظریې د یو بل نه خړوب شوي یا یې د یو بل نه رنګ اخیستی، چې سره ورته او توپیري ټکي لري او هغه ټول په مجموع کښې په یونه یو ډول مونږ ته د فولکلور ارزښت او اهمیت څرګندوي، د هر ولس او ټولنې فولکلور د هغې ټولنې د مادي او معنوي ارزښتونو د پېژندنې نه څرګندېږي او په فولکلور کښې شامل ادبي توکي له ډېر ستر ارزښت او اهمیت نه برخمن دي، چې د هغو له لوستنې او مطالعې پرته مونږ ته دهغې ټولنې پېژندنه ناشونې ده. نو ځکه دهرې ټولنې د پېژندنې لپاره دهغوی دفولکلور راټولو نه، څېړنه او سپړنه اړینه ده.

**د فولکلورټولونې اړتیا**:

دفولکلور په باب داخبره دیو اصل په توګه منل شوې، چې دانسان پیدایښت سره سم پیدا شوی او د ټولنیزو ژوند په بهیر کښې د بشري ټولنو دخلکو د پوهې او ګروهې، انګیرنو او ذهني او جسمي فعالیتونو په نتیجه کښې یې له شرایطو او حالاتو سره په سمون او بدلون لړه یا ډیره وده او پرمختیا موندلې او د وخت په تیریدو سره یې بڼه‌ای شوی دی، نو ځکه دانسان د ژوند بیلابیلې خواوې راسپړي، پرمختګونه او ولسي ذهنیت بیانوي، او دا اړتیا لیدل کیږي، چې په تیر مهال کښې د انسان د ژوند د بیلابیلو برخو د تفسیر او تعبیر لپاره هغه چې د دوی د ذهنیت او پوهنې زیږنده ده، راټول او ثبت شي.

"د پښتو فولکلوري ادبیات اثر لیکوال د فولکلور ټولونې د اړتیا په باب لیکي: ((ستره اړتیا یې دا ده چې دفولکلور په لیک او راټولولو سره مونږ شیبې او زمانې خوندي کوو، دانساني ژوند کړه وړه او پرمختګونه جوتوو، د انسان فکري او ذهني پرمختګ خوندي کوو . ...، د تیر ژوند په افسانو کښې دنوي ژوند او نوي دور څیره وینو. هغه ملتونه او قومونه چې فولکلور یې راټول شوی او خوندي شوی وي، هغوی خپل ذهني او فکري پرمختګ په تیر ژوند کښې ویني...، د خلکو ژبه، لهجې، دودونه، اخلاق، وسایل او راشه درشه ورڅخه څرګندیږي".(۷)

د فولکلور او فولکوري ادبیات لیکوال دفولکلور راټولونې داهمیت او اړتیا په باب داسې څرګندونې لري: ((که چیرې غواړو چې د بشر د ژوند په رازونو پوه شو باید ولسي پانګې او د خلکو دودونو او تفکر ته سر ور دننه کړو... له دې امله د ولسي پانګې(فولکلور) خوندي کول د هر ملت لپاره ضروري دی، ځکه نو پښتني فولکلور په عمومي ډول او ځانګړې توګه زمونږ دپښتني ټولنې د خلکو د ادب او ژوند د ټولو برخو د یو عمومي جاج څرګندونکې معنوي هستي ده،... نو له همدې امله د فولکلور راټولول او له هیریدنې او ورکیدنې ژغورل او خوندي کول د دې لپاره اړین دي چې ،فولکلور د ولس په طبیعت پوهیدل، د ولس د خیال ساتنه، د خلکو دودونه، عنعني، عقیدې او مینې پکښې ښکاري، په فولکلور پوهیدل په قومي طبیعتونو او د هغوی په ذوقونو پوهیدل دي(۸)

زمونږ وګړي د پیړیو په پوړیو کښې هغه مهال چې د فولکلور په ارزښت او اهمیت نه پوهیدل، هغه ورته خرافات، زاړه وروسته پاتې عنعنات او بې ارزښته روایات او حکایات ښکاریدل، نوځکه یې ورسره ډیر سطحي چلند کاوه او هغو ته یې په سپکه سترګه کتل، هغه مهال چې انګریزي ښکیلاګر د خپلو استعماري شومو هدفونو د پلي کولو په موخه لومړي

پښتونخوا سیمو او بیا افغانستان ته راغلل او د پښتنو کلتور او فلکلور دغه بډایه پانګه یې ولیدله، نو د دې ولس د تاریخ او فرهنګ، احساساتو ا وعقایدو باندې د پوهیدو او خبریدو لپاره ورته ډیره غوره وسیله د پښتنو د کلتور او فولکلور ښکاره شوه، نو ځکه یې د هغه په راټولو او مطالعه لاس پورې کړ، سره له دې چې دوی دا کار د خپلو استعماري هدفونو لپاره کاوه، ځانته یې د پښتنو روحیه، ژوند دود او عنعنه معلوموله، خو پښتنو ته یې دا ګټه وررورسیدله چې د فولکلور یوه برخه خوندي شوه او هم یې د فولکلور ارزښت او اهمیت ته د ځینو لیکوالو او څیړونکو پام ور واوښت او د هغې را ټولونې او خوندي کولو ته لاس په کار شول او په معاصر طریقه د هغې د راټولونې، سپړنې او څیړنې کار پیل شو.

د فولکلور یا ولسي ادب د راټولولو لارې چارې(میتودولوژي)

د مخه مو د فولکلور د عامې پیژندې په برخه کښې وویل چې لغوي معنایې فرهنګونو د خلکو ادبیات، ولسي پوهه او زده کړه راخیستې او په اصطلاح کښې دکلتور هغه څانګه ده، چې دانساني مشخصو ډلو عنعنوي دودونه، نکلونه او انساني ارزښتونه، انګیرنې شګومونه عامیانه اعتقادات، باورونه او داسې نور پکښې راځي، په عامه توګه فولکلور د ولسي پوهې لمنه ډیره پراخه ده،چې په معنوي لحاظ پکښې: دودونه، ادب، پوهنه، تجربه او ټول کړه وړه راځي او په منځپانګه کښې یې درې سترې برخې شاملېږي:

۱- شفاهي فولکلور ۲- غیر شفاهي فولکلور ۳.نیم شفاهي فولکلور

په شفاهي فولکلور کښې ولسي ادبیات (منظومې او منثورې ویناوې) سندرې، محاورې، متلونه، چیستانونه، انګیرنې، ولسي کیسې، نکلونه، روایتونه، فکاهیات یا ټوکې ټکالې او نور راځي. په غیر شفاهي فولکلور کښې سیمه ییز هنرونه، موسیقي او سیمه ییز خواړه او نور شامل دي او په نیم شفاهي فولکلور کښې خرافاتي عقیدې، سیمه ییز لوبې، نڅاوې او نور شامل دي.

دفولکلور دهر اړخیزې پیژندنې په ترڅ کښې مو د فولکلور مواد هم وپیژندل ، دفولکلور په ارزښت او اهمیت مو هم خبرې وکړې اوس چې دفولکلوري موادو په راټولولو او د دغې را ټولونې په لارو چارو بحث کوو، نو ښه به دا وي چې لومړی د دغې راټولونې په اړتیا وغږیږو او بیایې د راټولولو دلارو چارو په څرنګوالي بحث وکړو.

**د فولکلور ټولونې لارې چارې**

> "دفولکلور ټولولو د علمي او عملي لارو چارو څرنګوالي ته د فولکلورټولونې میتودولوژي وایي، میتود په اصل کښې د میتودوس په بڼه یوناني کلمه ده، چې په لغت کښې طرزالعمل (دیوې چارې د سرته رسولو طریقې) ته ویل کیږي. په عربي، دري- پښتو ژبو کښې د میتود پرځای د اسلوب، طریقې، روش او دود کلمې هم

استعمالیږي. میتودولوژي د میتودپوهنې معنا لري او د فلسفې یوه څانګه ده چې په عام ډول د علم او په خاصه توګه د هرځانګړي علم د څېړنې منطقي اصول بیانوي" (۹)

د فولکلور او فولکلوري ادبیات اثر لیکوال د فولکلور ټولنې د لارو چارو په اړه په تفصیل سره بحث کړی، چې د مفاهیمو لنډیز یې په دې ډول دی:

فولکلور ټولونه او بیا د هغه خوندي کول تاریخي رسالت دی او د خپل هیواد د برم او شوکت د خوندي ساتلو معنا لري. د فولکلور راټولو لارې چارې ډېرې دي، خومونږ په هغو کښې ترټولو اسانه او ګټورې لارې چارې وړاندیز کوو.

- دا چې فولکلور د ولسونو مال دی او فولکلوریکه شتمني په خلکو یا ولس کښې پیدا کیږي، پخپله ولسونه یې د ضبط، ثبت، ساتنې او لیږدونې ترټولو ښه وسیله ده. دا چې وګړي د فولکلور لیږدونکي دي او د هغوی د سن، طرزتفکر او ټولنیز دریځ له مخې توپیر لري، مثلاً: مشران او سپین ږیري د لنډو فولکلوري کیسو او کیسه ګیو، متلونو او اخلاقي افکارو لرونکي او لیږدونکي دي، په ټولنه کښې دوی د فولکلور د لیږد او خوندي کولو او راټولولو ښه وسیله کیدای شي.

- د فولکلور د ساتنې او لیږد بله ګټوره وسیله ماشومان هم کیدای شي. ځکه همدا ماشومان دي چې د سرودونو، ترانو، چیستانونو او فولکلوري لنډو کیسو په راټولولو او ضبط کښې ترې استفاده کیدای شي. د دغو ترانو او کیسو د ضبط او ثبت تر ټولو غوره ځای د ماشومانو د لوبو ځایونه دي، کله چې دوی په لوبو بوخت وي له هغوی څخه دغه مواد په اغیزمنه توګه راټولیدای شي.

"د فولکلوري او کلتوري میراثو د ضبطولو، ثبتولو او راټولولو بله ستره منبع او مرجع په کلیو او باندو کښې ښځمنې هم کیدای شي . ځکه له دوی سره دفولکلوري ادب یوه ډیره ستره پانګه (د میندو او ماشومانو سندرې) شته او دا کار د ټولنیز موقف له مخې پخپله ښځې ښه کولی شي. البته هغه ښځې چې په لیک لوست وپوهیږي او ترڅنګ یې د فولکلور په ارزښت او اهمیت او د مرکو له لارې د فولکلور را ټولولو په میتود باندې وپوهیږي". (۱۰)

په پورته څرګندونو کښې چې د فولکلور راټولونې کومې لارې وړاندیز شوي، تر ډیره عملي اړخ لري، او دا چاره په ولس کښې ډیره اسانه او ارزانه ترسره کیدای شي.

د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو د څېړندود اثر لیکوال د فولکلور پیژندنې اثر په حواله لیکي: د فولکلور ټولونې لپاره «سروې» تر ټولو عام او منل شوی میتود دی او د تاریخي میتود په پرتله په فولکلوري څېړنو کښې زیات کاریږي. که چیرې فولکلور څېړنه دیوې فرضیې یا

نظريې له اثبات سره اړه ولري، نو هلته بايد دتجربې ميتود مرحلې تعقيب شي. ان دا چې په تجربې ميتود کښې هم د فولکلوري معلوماتو ټولونې ته اړيتا ليدل کيږي.

ليکوال پردې خبره ډېر ټينګار کوي چې کله مونږ فولکلوري مواد راټولوو هغه بايد پخپله اصلي بڼه او بې له هرډول لاسوهنې راټول او د غه امانت راتلونکي نسل او راتلونکو څيړونکو ته، لکه څنګه چې په ټولنه کښې موجود دي، وسپارو.

"ليکوال وايي: کله چې مونږ د علمي مقاصدو لپاره د عوا مو د ادبياتو په راټولونه پيل کوو، تر هرڅه لومړی مو بايد دې ته پام وي چې د عوامو ادبيات، چې څنګه دي په هماغه بڼه يې راټول، ثبت او خپاره کړو. د عوامو د ايجاداتو نسخې په هغه صورت کښې د علمي خپرونو او څيړنو لپاره د باور وړ ګڼل کيدای شي، چې د هغې د ليکلو وخت، ويونکي او ان دا چې د ضبط کوونکي په باب معلومات موجود وي".(۱۱)

د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څيړوندود اثر ليکوال د خپلې څيړنې په ترڅ کښې د فولکلور ټولونې لپاره ځينې نورې لارې هم په ګوته کوي او ليکي: (مونږ فولکلوري مواد له خلکو او ولس څخه د روايت، مشاهدې پوښتنليکونو او نورو په مرسته راټولولی شو، خو د دې په څنګ کښې کولی شو، چې له خپلو پخوانيو ادبي متونو څخه هم فولکلوري مواد راټول کړو.

"ليکوال په دې برخه کښې د ځينو فولکلور څيړونکو مثال راوړي چې زمونږ د کلاسيکو شاعرانو، لکه: خوشحال خان خټک او رحمان بابا او نورو له ديوانو څخه يې يو شمير متلونه، اصلاحات، محاورې او نور فولکلوري توکي راټول کړي او د مقالو او رساولو په بڼه يې چاپ کړي دي".(۱۲)

د اثر ليکوال د فرهنګ مردم مجلې په حواله د پوهاند شاه علي اکبر شهرستاني د مقالې (شيوه ګرداوري فولکلور) څخه دفولکلور ټولولو د لارو چارو په باب داسې نظر څرګند کړی دی:

۱- له خلکو څخه. ۲- له کتابونو او نورو آثارو څخه.

"همدارنګه نومورې د پوښتنو او مسايلو په طرحه کښې دغه لاندې مواد ضروري ګڼي:

۱- د سوالونو طرحه او د هر سوال په مقابل کښې د ځواب ترلاسه کول.

۲- د نظر وړ شخص سره د خبرو پيل کول او د مطلب د پيل لپاره د هغه د افکارو متمرکز کول.

۳- د ځواب ورکوونکي ذهن د ټوکې،

" متل او يا يو شعر په واسطه آماده کول او د داسې پوښتنو طرحه کول چې دځواب ورکوونکي د خفګان او نفرت سبب ونه ګرځي او هم هغه اړنه باسي چې له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي". (۱۳)

د پښتو فولکلوري ادبيات اثر ليکوال پوهندوی لعل پاچا ازمون د فولکلوري موادو د راټولولو لارې چارې او د هغو په وړاندې موجودې ستونزې او ربړې په تفصيل سره يادې کړې.

تر هرڅه وړاندې يو فولکلور ټولوونکی بايد له ځان سره ماخذ يا يو يادښت او پوښتنليک ولري.
د فولکلور ټولونې لپاره بايد وسايل برابر کړي.
سيمه بايد ځانته ځانګړې کړي.
د سيمې او د هغې د خلکو په باب بايد پوهه ولري.
د سيمې د خلکو پر ژبه او لهجو بلد وي.
د خلکو د اخلاقو په هکله وپوهيږي.
د سړې سينې او پوره حوصلې څښتن وي.
سيمې ته له تګ وړاندې بايد تدابير ولري.
هدف او موضو بايد ځانته روښانه کړي.
له خلکو سره ناسته او د دوی په مجلسونو او نمانځنو کښې برخه واخلي.

کله چې فولکلورټولوونکي خپل مواد له ولسه واخلي، نو د امانت ساتلو اصل ته دې په پام سره بايد دغه ټکي له ځان سره ثبت کړي:
د موادو د ليکولو يا ثبت نيټه.
د راوي يا هغه کس پېژندنه، چې ده ترې مواد راټول کړي، د هغه بشپړنوم، عمر، ژبه او نورې ځانګړنې بايد وښودل شي. لوستی دی، که نالوستی، چېرې زېږېدلی، روايات د چا د خولې کوي؟

"سيمه بايد راوپيژني(کله، په کوم ځای کښې، د چاله خوا ثبت او يا وليکل شو، د کوڅې نوم، ناحيه، کلي، ولسوالي، ولايت، ورځ ، مياشت او دثبت کال بايد وليکل شي.)) (۱۴)

سره له دې چې په پورته څرګندونو کښې د فولکلور راټولولو د لارو چارو پرځای ډېر د فولکلور را ټولوونکي دندې، ځانګړې موخې او هدفونه دي. اوځينې پکښې داسې لارې چارې ښودل شوې، چې د مخه دنورو ځيړونکو په څرګندونو کښې يې يادونه شوې ده، خو د دې ترڅنګ د فولکلور راټولو د لارو چارو په باب پکښې داسې نوي ټکي هم شته چې د مخه په څرګندونو کښې نه ليدل کيږي.

د فولکلور ټولونې روشونه او تکنيکونه

فولکلور ټولونه خپل ځانګړي تکنيکونه، لارې او روشونه لري، چې د هغو په کارونې سره ډېر په اسانه او اغيزناک ډول د فولکلورټولوونکي هدفونه او موخې ترلاسه کيدی او فولکلوري مواد او توکي راټوليدی شي.

د فولکلور پيژندنې اثر ليکوال ياد روشونه او تکنيکونه: مرکه، پوښتنليک او کتنه، نومولي او په پوره تفصيل سره يې راپيژندلي، چې دلته يې دهر يو په اړه د مفاهمو لنډيز وړاندې کيږي.

الف-مرکه (Interview): مرکه په لغوي لحاظ په پښتو ژبه کښې د جرګې په معنا راځي، خو دلته د سروې د یو تکنیک په توګه هغو خبرو اترو ته ویل کیږي، چې د یوې ټاکلې موخې او هدف په رڼا کښې د سمو او باوري معلوماتو د راټولولو لپاره له یوه یا ډېرو کسانو سره کېږي.
د فولکلور ټولونې په کار کښې مرکه د مصاحبې (Interview) په معنا کارول کېږي، چې هغه په دې برخه کښې له بل هر تکنیک او روش څخه غوره او ارزښتمنه ده.

د یادونې وړ ده چې فولکلوري موادو د راټولونې لپاره مرکه کله ډېره محدوده وي د ((هو)) یا ((نه)) او یادغه ډول کوم بل لنډ ځواب غواړي. په ځینو وختونو کښې مرکه آزاده وي. کله چې فولکلور راټولوونکی (فولکلوریست)، غواړي چې د یوې موضوع په باره کښې ډېر او مفصل معلومات ترلاسه کړي، نو بیا آزاده مرکه؛ سړی خپلې موخې ته په ښه شان وررسولی شي. خو که غواړي د یو دود دستور ښه والي او بدوالي په اړه د خلکو عام ذهنیت ځانته معلوم کړي، یوازې مثبت یا منفي نظریې په کار دي، په دې صورت کښې بیا محدوده یا (پلان شوې) مرکه ښه کار ورکوي.

د معلوماتو راټولوونکی باید د پوښتنې کولو په مهال له ډېر غور او احتیاط څخه کار واخلي او هغه دې داسې ترتیب او مطرح کړي چې مقابل لوري ته یې موضوع څرګنده او دده په موخه او رضا پوه شي. په دې برخه (د موضوع په انتخاب) کښې باید پوښتونکی دا لاندې ټکي په پام کښې ونیسي:

۱- آیا د څیړنې موضوع نوې معلومات وړاندې کوي که د پخوانیو څېړنو تکرار دی.
۲- آیا د څیړنې موضوع په دې ارزي چې په اړه یې خلکو ته د مرکې لپاره مراجعه وشي.
۳- مقابل لوري ته (چې پوښتنه ورڅخه کیږي) د موضوع اهمیت څرګند شي. فولکلور ټولوونکی باید مقابل لوری په دې باوري کړي چې د مرکې موضوع په دې ارزي چې خبرې پرې وشي.
۴- مقابل لوری، چې پوښتنه ورڅخه کیږي، په دې باوري شي چې د مرکې له موضوع څخه ناوړه استفاده نه کېږي.
۵- مقابل لوری باید د دې احساس وکړي چې پوښتونکی ناچاره ؤ چې د دې معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره یې ده ته مراجعه کړې.
۶- پوښتنې باید څرګندې، بشپړې او د منلو وړ وي.
۷- پوښتونکی باید له داسې پوښتنو ځان وژغوري چې د عقایدو د تفتیش بڼه ولري او دې مقابل لوري چې پوښتنه ورڅخه کیږي په خوصي ژوند پورې اړه پیدا کوي. او د حساسیت د پیداکیدو لامل ګرځي.
۸- پوښتونکی باید د پوښتنو روحیاتي ترتیب په پام کښې ونیسي.
۹- له مرکې څخه ترلاسه شوي ځوابونه باید د تصنیف، تعمیم او تفسیر وړ وي.(۱۵)

ب- پوښتنلیکونه: کله چې فولکلور ټولوونکی له زده کړه لرونکو وګړو څخه معلومات راټولوي، کولی شي، د پوښتنلیک له تکنیک څخه کار واخلي . پوښتنلیک د سروې یوه معمولي وسیله ده، دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې هر تکنیک په خپل ځای اغیزناک دی، فولکلورټولونکی دې پخپله وګوري چې چیرته کوم تکنیک ښه کار کولی شي. البته که پوښتنلیک د فولکلوري معلوماتو د راټولولو لپاره ګټور وي، خو د نالوستو وګړو څخه د معلوماتو راټولولو په برخه کښې ورڅخه کار نشي اخیستل کیدای. خو لویه ګټه یې دا هم ده چې که چیرې معلومات راټولوونکی د ځینو ستونزو له امله کوم ځای ته په معلوماتو پسې پخپله نشي تللی، د پوښتنلیک په لیږلو هم معلومات تر لاسه کولی شي. د پوښتنلیک یوزیان دادی چې معلومات را ټولوونکی د ځواب ورکوونکي د علاقې نه ښودلو او ځان تیرولو حدود ځانته نشي معلومولی، په داسې حال کښې چې مرکه کوونکی کولی شي د مقابل لوري د شوق، زوق او علاقې اندازه ځانته معلومه کړي.

"پوښتنلیک بیا دا ګټه هم لري چې ځواب ویونکي ته د غور او فکر کولو فرصت ورکوي. سربیره پردې پوښتنلیکونه هم د مرکې په څېر آزاد او محدود ډولونه لري. د آزاد پوښتنلیک یوه ښیګڼه داده، چې پوښتونکي ته د ځواب ورکوونکي د خپلې خوښې واقعي ځواب څرګندیږي. په دې ترڅ کښې ډېر ځله داسې تیاره اړخونه هم روښانه کېږي، چې پخوایې په فکر کښې نه ګرځیدل، په داسې حال کښې چې د محدودو پوښتنو ځوابونه په اسانۍ تصنیف کیدی شي، خو د آزادو پوښتنلیکونو تصنیف، تعمیم او تفسیر اسانه کار نه دی". (۱۶)

"ج- کتنه: د معلوماتو راټولولو لپاره د سروې یو بل تکنیک کتنه ده. دلته دې ټکي یادونه ضروري ده، چې تکراري استنادي څیړنې او کتنه د تحلیلي سروې لپاره زیات اهمیت لري. په فولکلور ټولونه کښې په ډېرو مواردو کښې له کتنې څخه هم کار اخیستل کېږي. د عوامو فرهنګ پرمادي توکونو برسیره د مراسمو، شعایرو، جشنونو، لوبو، نڅاوو، ولسي ډرامو او نورو د مطالعې لپاره له دغه روش (کتنې) څخه زیاته استفاده کېږي". (۱۷)

**نتیجه**:

د پایلې په توګه ویلی شو، چې د فولکلور ټولونې لپاره داغیزناکو لارو چارو په ترڅ کښې مو د مرکې، پوښتنلیک او کتنې درې بیلابیل تکنیکونه در وپېژندل، چې فولکلور ټولوونکی له هغو څخه استفاده کولی شي او د همدغو لارو چارو په وسیله دفولکلور ټولونې چارې ترسره کړي. دا یادونه موهم وکړه چې هر تکنیک په خپل ځای اغېزناک او ګټور دی، بل داچې فولکلور ټولونکی مکلف دی ترڅو له پوره غور او دقت څخه کار واخلي چې کوم تکنیک په کوم ځای کښې وکاروي او خپله موخه (فولکلور ټولونه) په ښه شان سرته ورسوي.

فولکلور ټولو نه، د هغې ثبت او خوندي کول، له هېرېدلو او ورکېدلو ژغورل بیل کار دی، را ټولوونکي د دې کار لپاره خپل مسوولیتونه او مکلفیتونه لري، خو دغه راټول شوی او خوندي شوی فولکلور څېړنه، سپړنه او شننه غواړي دا بیا د څېړونکو کار دی. دا څېړنه خپلې لارې چارې او په علمي او عملي توګه د دې کار سرته رسول خپل میتود لري، چې هغې ته د فولکلور څېړنې میتودولوژي وایي، په یاده مېتودولوژي کې فولکلور څېړونکی له درې علمي او عملي لارو چارو (میتودونو) څخه کار اخلي: تاریخي میتود، سروې او تجربي میتود.

## حوالې

۱- حبیب الله رفیع، د خلکو سندرې، کابل، تاریخ ټولنه، ۱۳۴۹ لمریز کال، ۳ مخ.
۲- لعل پاچا ازمون، پوهندوی، پښتو فولکلوري ادبیات، پکتویس خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵ لمریز کال، ۳۵مخ.
۳- نصرالله ناصر، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، د افغانستان علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳۸۳لمریز کال، ۵۳مخ.
۴- احمدشاه زغم (پوهنوال)، فولکلور او فولکلوري ادبیات، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو ژبې او ادب څانګه، درسي کتاب، د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه، کابل،۱۳۹۴ لمریز کال، ۱۵مخ.
۵- روهي محمد صدیق (سرمحقق) فولکلور پېژندنه، د افغانستان دعلومو اکاډمي،د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل،۱۳۶۵لمریز کال، 10، ۱۱ مخونه.
۶- پورتنی اثر، ۲۳ او ۲۴ مخونه.
۷- پښتو فولکلوري ادبیات، ۶۴ مخ.
۸- پورتنی اثر، ۶۳ مخ.
۹- فولکلور او فولکلوري ادبیات، ۲۰ او ۲۱ مخونه.
۱۰- محمد رحیم الهام(پوهاند- ډاکټر) په ادبي تاریخ لیکنه کښې د میتود ضرورت (مقاله) د ادبي تاریخ میتودولوژي(دمقالو ټولګه)،د افغانستان علومو اکاډمي، ۱۳۶۷ لمریز کال، ۳مخ.
۱۱ .فولکلور او فولکلوري ادبیات، ۲۲ او ۲۳ مخونه.
۱۲- د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، ۶۶ او ۶۸ مخونه.
۱۳- پښتو فولکلوري ادبیات ۳۸ او ۳۹ مخونه.
۱۴- فولکلور پېژندنه، ۱۲۸ او ۱۲۹ مخونه.
۱۵- همدا اثر، ۱۳۹مخ.
۱۶- پورتنی اثر، ۱۴۱ او ۱۴۲ مخونه.
۱۷- فولکلور پېژندنه، ۱۴۱، ۱۴۲مخونه.